دین نصیحت دی

له تميم الداري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "دین نصیحت دی" مونږ وویل: د چا لپاره؟ هغه وفرمایل: "د الله لپاره، د هغه د کتاب لپاره، د هغه د رسول لپاره، د مسلمانو چارواکو او د دوی عامو خلکو ته".

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي چې د دین بنسټ په اخلاص او صداقت ولاړ دی، تر دې چې په هغه ډول بشپړ ادا شي لکه څرنګه چې الله تعالی لازم کړی دی، پرته له هر ډول کوتاهۍ، غفلت او فریب څخه. رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل شول: چې دین د چا لپاره نصیحت دی؟ نو هغه وفرمایل: لومړی: د الله تعالی لپاره نصیحت: هغه ته په اخلاص سره عمل کول، له هغه سره شرک نه کول، د هغه په ربوبیت، الوهیت، اسماء او صفاتو امر لوی ګڼل، او پر هغه باندې ایمان راوړلو ته بلنه ورکول دي. دویم: د هغه د کتاب؛ قرآن کریم‌ایمان لرل، د هغه لپاره نصیحت پدې خبره باور ساتل دي چې دا د هغه کلام او وروستی کتاب دی، د ټولو مخکینیو شریعتونو منسوخوونکی دی، مونږ یې درناوی کوو، په حقه یې لولو، په محکم یې عمل کوو، او متشابه ته یې غاړه ږدو، د تحریف کوونکو د تاویل په وړاندې تري دفاع کوو، له نصیحتونو یې پند اخلو، علوم یې خپروو او بلنه ورته کوو. دریم: د هغه د رسول؛ محمد صلی الله علیه وسلم لپاره نصیحت: پدې خبره ایمان لرل دي چې هغه وروستی پیغمبر دی او په هغه څه کې یې ریښتنی وګڼو چې راتګ یې پرې کړی دی، حکمونه یې ومنو، له هغه څه ډډه وکړو چې مونږ یې تري منع کړي یو، د الله عبادت یوازې په هغه څه سره وکړو چې هغه پرې راتګ کړی دی، د حق درناوی یې وکړو، احترام یې وکړو، دعوت ته یې بلنه ورکړو، شریعت یې خپور کړو او تورونه تري لرې کړو. څلورم: د مسلمانو چارواکو لپاره نصیحت : په حق چارو کې د هغوی ملاتړ کول، له هغوی سره د واک په سر شخړه نه کول، د الله تعالی د اطاعت په چوکاټ کې هغوی ته غوږ نیول او اطاعت یې کول. پنځم: د مسلمانانو لپاره نصیحت: له هغوی سره نیکي کول، هغوی ته بلنه ورکول، هغوی ته د ضرر رسولو مخنیوی، له هغوی سره ښېګڼه خوښول، او له هغوی سره د نیکي او تقوا په چارو کې مرسته کول دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4309